خپل حقونه وپیژنئ

کله چې موضوع په کار ځای کې له جنسي ځوروني سره تړاو ولري، دا سرچینه ستاسو حقونه او د ګمارونکي مسوولیتونه تشریح کوي.

په کار ځای کې جنسي ځورونه د ولایتي، سیمه‌ییزو او فدرالي بشري حقونو او د کار ځای د خوندیتوب د قوانینو له مخې غیرقانوني ده.

دا قوانین په ټولو کارکوونکو پلي کېږي، پرته له دې چې دې ته پام وشي چې دوی د کار یا کډوالۍ وضعیت څه دی.



- آیا د جنسي ځورونې اړوند راپورونو په اړه عادلانه پلټنه ترسره کېږي
- که چېرې تاسو ځورونه تجربه وکړئ، حتی که چېرې په هغه وخت کې هم چې د هغې په اړه پلټنې روانې وي، د خپل خوندیتوب او ارتیاوو لپاره ملاتړ او مناسبې اسانتیاوې ترلاسه کړئ
- پرته له دې چې ستاسو د کار یا کډوالۍ حالت ته پام وشي، دا خوندیتوبونه ترلاسه کړئ (لکه، که چېرې تاسو عادي کارکوونکی، بشپړ وخت یا نیمه وخت، لنډمهاله یا دایمي، خپلواک قراردادی، د کور دننه پاملرنې چمتو کوونکی، شخصي خدمتونو کارکوونکی، موقتي بهرنی کارکوونکی، د کډوالۍ نامعلوم حالت لرونکی او داسې نور یاست)

په کار ځای کې ستاسو حقونه دا دي تر څو:

- د خپل جنس یا هغه څه چې څوک یې ستاسو جنس ګڼي، جنسیت، د جنسیت پر بنسټ څرګندونه، د جنسیتي پېژندنه یا جنسي تمایل پر اساس له تبعیض څخه خوندي واوسئ.
- په داسې ځای کې کار وکړئ چې له جنسي ځورونې څخه پاک وي (هم په کار ځای کې او هم د فزیکي کار ځای څخه بهر)، که دا ځورونه د همکارانو، مدیرانو، مراجعینو یا هر بل چا لخوا وي چې تاسو ورسره سر او کار لرئ
- اړ نه وئ چې په داسې خطرناک کاري چاپېریال کې کار وکړئ چېرې چې جنسي یا د جنسیت پر اساس ټوکې، تبصرې یا چلندونه عادي وي.
- د خپل کار ځای اړوند د جنسي ځورونې پالیسۍ ته لاسرسی ولرئ، د دې پالیسۍ په اړه روزنه ترلاسه کړئ او د ځورونې په اړه د راپور ورکولو لپاره خوندي لارې ولرئ.




ستاسو د ګمارونکي مسوولیتونه دا دي چې:

- **د جنسي ځوروني په رامنځته کېدو څخه مخنیوی وکړي**
- د جنسي ځوروني روښانه پالیسي ولري او د هغوی په اړه رزونه چمتو کړي
- په عادلانه، چټکۍ او معقول ډول سره د جنسي ځوروني اړوند شکایتونو په اړه پلټنه وکړي
- ډاډ ترلاسه کړي چې د کار ځای سره تړلي ټول کسان (لکه کارکوونکي، قراردادیان، مراجعین او نور) د پالیسیو په اړه پوهیږي او دا چې څه ډول د ځوروني په اړه راپور ورکړي
- خوندي، اسانه او عملي لارې چمتو کړئ تر څو د جنسي ځوروني راپور ورکړل شي

- هر هغه څوک چې د ځوروني په اړه راپور ورکوي یا یې شاهد وي، له هر ډول غچ اخیستنې څخه خوندي کړي (هغوی ته د غږ پورته کولو له امله سزا ورکول غیر قانوني دي)
- هغه چا ته ملاتړ او سرچینې برابر کړي چې د جنسي ځوروني په اړه یې شکایت کړی وي یا څوک چې د جنسي ځوروني په څېړنه کې برخه اخلي
- د کار ځای کتلور له جنسي یا جنسیت پر بنسټ ټوکو، تبصرو یا نندارو څخه پاک وساتي





- حتی که چېرې جنسي ځورونه یو ځل رامنځته شوې وي یا که چېرې ځورونکی شخص دا قصد هم ونه لري چې د جنس یا جنسیت پر بنسټ یو څوک وځوروي، د هغې په اړه پلټنه وکړي
- حتی که چېرې هیڅوک رسمي شکایت هم ثبت نه کړي، د ځوروني په اړه پلټنه وکړي
- په دې پوه شي چې د مسلمانو ښځو (یا هر چا) پر وړاندې ځورونه کې کېدای شي د جنسي یا جنسیت پر بنسټ ماهیت لرونکی چلند شامل وي چې د هغوی د نژاد یا دین سره تړاو لري او دا د نورو ډولونو ځوروني څخه توپیر ولري

ستاسو د ګمارونکي د جنسي ځورونې پالیسي باید:



- لیکل شوې وي
- پوهېدل پرې آسانه وي
- لاسرسی ورته آسانه وي
- تاسو ته درکړل شي او په څرګند ډول تشریح شوې وي
- د جنسي ځورونې په اړه د راپور ورکولو لپاره څرګند ګامونه پکې شامل کړي
- د جنسي ځورونې په اړه د راپور ورکولو لپاره بدیلې لارې چارې وړاندې کړي
- د پالیسیو په اړه روزنه اړینه ده
- هر هغه څوک چې د جنسي ځورونې په اړه راپور ورکوي یا د جنسي ځورونې په څېړنه کې برخه اخلي، له هر ډول غچ اخیستنې څخه خوندي کړي
- په ځانګړې توګه د جنسي ځورونې موضوع په ګوته کړي (په ټوله کې یوازې د عمومي ځورونې یا تبعیض په اړه نه وي)
- تشریح کړي چې د راپور ورکوونکي شخص لپاره کوم ملاتړ د لاسرسي وړ دی
- د پالیسۍ د ژباړې یا تفسیر اجازه ورکړي او که اړتیا وي د راپور ورکولو او څېړنې پر مهال شفاهي ژباړه چمتو کړي

ستاسو د ګومارونکي د جنسي ځورونې پلټنې باید:

- د "احتمالي بیلانس" له معیار څخه کار واخلي، یعنې پرېکړه وکړي چې دا ډېر امکان لري چې جنسي ځورونه رامنځته شوې وي (50% یا زیات چانس) او د جرم د سخت معیار "له معقول شک څخه پرته ثبوت" څخه کار وانخلي
- که داخلي څېړونکی عادلانه او بې پرې نه وي یا داسې ښکاري چې نشي کیدای، یو بهرنی څېړونکی وغواړي
- اجازه درکړي چې ملاتړي کسان له تاسو سره وي
- ستاسو لپاره د لاسرسي وړ لارې چارې چمتو کړي تر څو خپل معلومات په لیکلې یا شفاهي بڼه شریک کړئ
- له ټولو ښکېلو کسانو سره عادلانه چلند وکړي
- د پلټنو د ترسره کولو پر مهال ستاسو د خوندي ساتلو په موخه اقدامات ترسره کړي
- معلومات محرم وساتي
- له تاسو څخه د غچ اخیستنې پر وړاندې ساتنه وکړي او د رامنځته کېدو په صورت کې د غچ اخیستنې د مخنیوي یا بندولو لپاره لارې چارې ولري

وتدوین‌شده توسط شورای زنان مسلمان کانادا *(CCMW)* به‌عنوان بخشی از پروژه مداخلات محیط کار در مورد آزار جنسی *(WISH)*.

این منبع معلومات حقوقی عمومی ارائه می‌دهد و مشاوره حقوقی محسوب نمی‌شود.
تمویل شده توسط وزارت عدلیه کانادا.

© *CCMW 2026* / به روز شده: مارچ *2026*

Canadian Council of Muslim Women (CCMW)
Le conseil canadien des femmes musulmanes (CCFM)

Department of Justice Canada
Ministère de la Justice Canada